**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د روژي لس آخري ورځي او په اوسنیو وخت کې د لومړیتوبونو څخه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي:« **سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ** » ژباړه:« د خپل رب د مغفرت او د هغه جنت خوا ته وځغلئ او يو له بل څخه د وړاندي کېدو هڅه وکړئ، چي د هغه (جنت) پراختيا د اسمانونو او ځمکي په څېر ده، د هغو خلکو لپاره تيار کړای شويدی چي پر الله او د هغه پر پيغمبرانو يې ايمان راوړی وي.»او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

د الله جل جلاله پخپلو بندګانو باندی د رحمت څخه دادی چي د روژي د مبارکي مياشتي آخرني ورځي د نيکيو د ځو چنده کيدو لامل ګرځولي دي او د ښيګڼو ترسره کول پدي کي ډير ثواب لري ځکه چي نفسونه پدي سره الله جل جلاله ته نزدي کيږي زمونږ نبي محمد صلی الله عليه وسلم ددغو غورو فرصتونو څخه ګټه پورته کوله لکه چي حضرت عايشه رضي الله عنها فرمايی چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم به د روزي د مبارکي مياشتي په آخرني لسو ورځو کي د بل هر وخت په مناسبت ډير اجتهاد کولو همدارنګه حضرتت عايشه رضي الله عنها فرمايی: چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم باندي به چي کله د روژي آخری شپي او ورځي راغلي نو د شپی به يی عبادتونه کول او خپله کورنۍ به يی ويښه ساتله او ډيره هڅه به يی کوله.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم به نقش قدم باندي د تګ باندي يوه لاره داده چي د روژي د مبارکي مياشتي آخرينيو لسو شپو ورځو کي لمونځونه ډير وکړو د قرانکريم تلاوت ذکر او استغفار ووايو او همدارنګه د خير او د ښيګڼي په کارونو کي مصرف وکړو او دا د نيکانو لاره ده او همدارنګه د پرهيزګارانو عبادت دی لکه چي الله جل جلاله د جنت د خلکو په وصف کي فرمايی:« **تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ * فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ» ژباړه:« (د تهجد لپاره) د بسترو څخه پاڅيږي، خپل رب ته له ويري اوهيلي سره خپله غوښتنه وړاندي کوي. او څه روزي چي موږ ورکړې ده، له هغې څخه لګښت کوي. نو د سترګو يخېدو کوم وسائل چي د هغو د عملونو په مکافات کښي د هغو لپاره پټ کړای شوي دي، هيڅ ساکښ پرې خبر نه دی.» او بيا فرمايی: «إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ * آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ مُحْسِنِينَ * كَانُوا قَلِيلًا من اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ * وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ»** ژباړه:« البته پرهيزګاران به په هغه ورځ په باغونو او د چينو تر څنګ وي. د هغو رب چي هر څه هغو ته ورکوي، په خوښۍ سره به يې اخيستونکي وي. ښکه هغوی له دې څخه مخکي په دنيا کښي نېکوکاران ول. هغوی (د هغې ورځي له راتګ څخه مخکي) د شپې له مخي ډېر لږ ويده کېدل. بيا دوی د

شپې په وروستیو شپېو کښې (د الله څخه) بخښنه غوښتله؛»، همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فررمایلي دي: چې تاسو د شپې عبادت کوي ځکه چې دا د نیکانو لاره ده او الله ته د نژدیوالي سبب کیږي د ګناه څخه انسان منع کوي او همدارنګه د ګناهونو کفاره ګرځي او د بدن څخه ناروغیاني شړي.

دا چې د روژې مبارکه میاشت د اور څخه د خلاصون میاشت ده نو پدې کې هیڅ یوه داسی شپه نشته چې الله جل جلاله په هغه کې انسانان د اور څخه خلاص نکړي ځکه چې دغه شپې ورځې الله ته امیدواري شپې او ورځې دي او الله جل جلاله د هغه چا لپاره پخښنه کوي چې د هغه څخه بخښنه غواړي ځکه چې داد رحمت مغفرت او د اور څخه د خلاصون میاشت ده او پدې کې داسی یوه شپه ده چې الله جل جلاله ورته ډیر زیات اهمیت ورکړي او په ټولو شپو باندې ډیر شرافت لري چې هغه د قدر شپه ده لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د روژې د مبارکې میاشتې په آخرینو لسو شپو ورځو کې تاسو د قدر شپه وڅارئ.

دغه مبارکه شپه د شپو لال او مرغلره ده الله جل جلاله په هغه کې خپل کتاب نازل کړی دی د پخپل نبي باندې د ملائکې په واسطه باندې او په یو داسی امت باندې چې ډیر عظمت لري دا داسی شپه ده چې پدې کې مغفرت رحمت او برکات رانازلیږي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ * لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ * تَنَزَّلُ المَلاَئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ * سَلاَمٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الفَجْرِ» ژباړه:« موږ دا (قُرآن) د قدر په شپه نازل کړیدی. او ته څه پوهېږې چې د قدر شپه څه ده؟، د قدر شپه له زرو میاشتو څخه ډېره غوره ده؛پرښتې او روح (جبرئیل ع) په هغې کښې د خپل رب په اجازه هر حُکم اخلي راکوزیږي،هغه شپه له سره تر پایه، تر سهار ختلو پورې سلامتیا ده.»، همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې څوک د لیله القدر په شپه باندې عبادت وکړي او په پوره باور سره نو الله به هغه ته ټول پخواني ګناهونه وبخښي.

همدارنګه مونږ پدې باندې ټینګار کوو چې د زړونو یووالي او پخپل منځو کې سمون راوستل د نیکو کارونو لپاره یوه لاره ده او ټول اختلافات ددی لامل کیږي چې ددغو عبادتونو څخه انسان محرومه شي په ځانګړي توګه پدو مبارکو شپو ورځو کې لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په بیلابیلو احادیثو کې به همدې باندی ټینګار کړی دی او ویلي دي چې د روژې مبارکې میاشتې به آخري لسو ورځو شپو کې یوه داسی شپه ده چې د زرو میاشتو څخه غوره ده.

*****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندې چې د قیامت تر ورځې پورې په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

دا چې د طاعت او د عبادت دروازې پدغو شپو ورځو کې ډېر دي نو عقلمند انسان خپل لومړيتوبونه په ترتيب سره پرمخ وړي هغه څه مخکې کوي چې هغه ډېر ګټور وي نو د همدي لپآره پدي شپو ورځو کې د فطر د صدقې ويستل او د هغه په ورکولو کې بيړه کول چې د اختر څخه مخکې ترسره شي ترڅو د بيوزلو اومسکينانو يتيمانو کونډو او اړمندو خلکو باندي پراختيا رامنځته شي ترڅو هغوي وکولای شي چې خپل اړتياوي پوره کړي مخکې لدې چې اختر ورباندي راشي نو دا ډېر ګټور تماميدلي شي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې په همدي باندي ټينګار کړي دي لکه چې د صدقه فطر ويستل پداسی ډول سره چې پيسی يو چاته ورکول ترڅو د بيوزلو ته پرې ګټه ورسيږي او زمونږ په ټولنه او اوسني وخت کې هغوي ته ګټه رسوي او اړتياوي پوره کوي او پدي کې د بيوزلو لپاره هم ګټه ده ترڅو د هغو اړتياوي پوره شي.

همدارنګه د لومړيتوبونو فقه ددی تقاضا کوي چې بايد بيوزلو مسکينانو ته خواړه ورکړل شي او همدارنګه اړمندو خلکو سره مرسته وشي او دا ددی څخه غوره دی چې په تکراري ډول سره حج او عمري ترسره شي ځکه چې لومړي عيني واجب دي او حج او عمره په تکرار سره کول نفلي کار دی او بی له شکه هغه څه چې واجب وي په ټولو نوافلو باندي هغه مخکې دي نو له همدي لپاره د يو چا اړتيا پوره کول خپلو لوي ثواب لري لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په خلکو کې الله جل جلاله ته هغه څوک ډېر خوښ دي چې خلکو ته ګټور وي او په کارونو کې الله جل جلاله ته ډير هغه څه خوښ دي چې يو مسلمان ته خوښي وروبخښي او يا د هغه مصيبت لری کړي يا د هغه پور اداء کړي يا د هغه لوږه لرى کړي همدارنګه نبي کريم صل الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د يو مومن نفس څخه مصيبت لر کړي په دنيا او آخرت کې به الله جل جلاله د هغه څخه مصيبتونه لري کړي.

**الله د زمونږ روژي او عبادتونه پخپل دبار کې قبول او منظور کړي او زمونږ د رران هيواد مصر او د نړی د ټولو هيوادونو ساتنه وکړی.**